# د مینیسوټا د ډرایورۍ لایسنس/پیژند کارت/د ښوونې جواز لپاره د نوم لیکنې غوښتنلیک

***مهرباني وکړئ په واضح ډول د غټو حروفو په کارولو سره په نیلي یا تور رنګ یې ولیکئ***

## ***د غوښتنلیک نوع***

***تاسې د کوم ډول لایسنس یا ID کارت لپاره غوښتنه کول غواړئ؟***

☐ د ډرایورۍ معیاري لایسنس یا ID کارت
☐ د REAL ID سره مطابقت لرونکی ډرایورۍ لایسنس یا ID کارت (اضافي اسناد اړین دي)
☐ د ډرایورۍ عالي لایسنس یا ID کارت (EDL/EID) (اضافي اسناد اړین دي)

| | معیاري | Real ID | عالي |
|---|---|---|---|
| د داخلي هوایی سفر لپاره کارول کیدی شي | تر د 2025 مې 7 پورې | ☑ | ☑ |
| فدرالي تاسیساتو لکه نظامي بیس یا د هستوي بریښنا کارخونو ته د لاسرسي لپاره کارول کیدی شي | | ☑ | ☑ |
| د امریکا متحده ایالاتو د پولو څخه تیریدو سند په توګه کارول کیدی شي (یوازې د ځمکې او سمندر له لارې) | | | ☑ |

**د زیږون نیټه (میاشت/ورځ/کال)** ___ ___/___ ___/___ ___ ___ ___

**د مینیسوټا د ډرایورۍ لایسنس، د ښوونې جواز یا د پیژند کارت لمبر** ___ _________-_________-_________-_________

**ستاسې قانوني نوم**

________________ ________________ ________________
بشپړ نوم بشپړ مینځنی نوم بشپړ تخلص

**مخکینی قانوني نوم (یوازې په هغه صورت کې که تاسې د تیر ډرایورۍ لایسنس، ID یا IP غوښتنلیک وروسته بدل کړی وي)**

________________ ________________ ________________
بشپړ نوم بشپړ مینځنی نوم بشپړ تخلص

**د اوسیدو پته (چیرې چې تاسې ژوند کوئ) د پوست بکس لمبر نه (غیرلدې که کور کې خوندي یې). یاددښت: ډاډ ترلاسه کړئ چې دا ستاسې اوسنی او معتبر پته ده. پوست خونه به ستاسې کارت در ونه لیږي.**

________________________________________
لمبر د سړک نوم اپارتمان لمبر

________________________________________
ښار ایالت زیپ کوډ

**د پوست اختیاري پته ډاډ ترلاسه کړئ چې دا معتبر پته وي. پوست خونه به ستاسې کارت در ونه لیږي.**

**زه تاییدوم چې د امریکا متحده ایالاتو پوستي خدمت به پورته زما ښودل شوي د اوسیدو پتې ته لیکونه نه لیږي. پیل یې دلته______________.**

مهرباني وکړئ وګورئ چې آیا دا دایمي یا یو ځلي پوستي پته ده ☐ **دایمي پوستي پته** ☐ **یو ځلي پوستي پته**

________________________________________
لمبر د سړک نوم اپارتمان لمبر

________________________________________
ښار ایالت زیپ کوډ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **د غوښتونکي فزیکي شرح** | **د سترګو رنګ** ☐☐☐ | **قد** ☐ **فټ** ☐ **انچ** | **وزن په پاونډ** ☐☐☐ | **نارینه** ☐ | **ښځینه** ☐ | **غیر باینري** ☐ | |
| **یوازې د دفتر استعمال لپاره** | ☐☐☐☐☐☐☐☐☐ | | | | | **زه تاییدوم چې زه د ټولنیز مصؤنیت لمبر نلرم.** ☐ | |

☐ **د ډونر د ډالۍ سند:** زه غواړم زما لایسنس یا د پیژند کارت کې وښودل شي چې زه د یونیفارم اتومات ډالۍ قانون (2007) لاندې د بدن د غړي او نسج ډونر کیدل انتخابوم.
☐ **ونډه:** زه غواړم د بدن د غړو او نسج د ډالۍ تعلیم ملاتړ کولو لپاره 2$ **ډالر ونډه** ورکړم.

**ستاسې کارت کې د ډونر موجود شاخص لیرې کولو لپاره، دلته لیرې کول ولیکئ:** ______________________

**ټول غوښتونکي باید دا بیانونه ځواب کړي:** (مهرباني وکړئ خپل ځواب حلقه کړئ)

1. هو نه زه غوښتنه کوم چې زما لایسنس یا ID کارت وښئ چې زه د ژوندیني وصیت لیک یا د روغتیا پاملرنې لاربښود لرم.
2. هو نه زه غوښتنه کوم چې زما لایسنس یا ID کارت د طبي خبرداري پیژندونکی ولري. زه پوهیږم چې کارت به کوم طبي معلومات مشخص نکړي، او دا چې لازمي معلومات به زه لیږدوم.
3. هو نه آیا تاسې د مینیسوټا پرته کوم بل ځای یا سیمې څخه په تیرو لسو (10) کلونو کې د ډرایورۍ لایسنس یا د ښوونې جواز درلودلی دی؟ که هو، چیرې؟ ______________________

**د ډرایورۍ لایسنس او د ښوونې جواز ټول غوښتونکي:** (مهرباني وکړئ خپل ځواب حلقه کړئ)

4. هو نه آیا تاسې کومه بله ناروغي یا طبي وضعیت لرئ چې ممکن د هوښ له لاسه ورکولو یا پخپله کنټرول له لاسه ورکولو لامل شي؟ که هو، تشریح یې کړئ: ______________________
5. هو نه آیا تاسې کوم بل طبي وضعیت لرئ چې ممکن د موټر واسطې خوندي چلول مختل کړي؟ که هو، تشریح یې کړئ: ______________________
6. هو نه آیا تاسې غواړئ خپل لایسنس یا ID کارت کې د ویټرن شاخص وراضافه کړئ؟ **(ثبوت اړین دی)**

**یوازې لنډمهاله لایسنس لرونکي ډرایوران:** (مهرباني وکړئ خپل ځواب حلقه کړئ)

7. هو نه آیا تاسې د الکول، کنټرول شوي توکو، یا د حرکت سرغړونو لپاره خپل د ډرایورۍ ریکارډ کې محکومیتونه لرئ؟

**یوازې سوداګریز (CDL) ډرایوران:** (مهرباني وکړئ خپل ځواب حلقه کړئ)

8. هو نه آیا ستاسې د ډرایورۍ امتیازونه د 49 CFR 383.51 یا د مینیسوټا ایالت د کوم بل قانون لاندې رد شوي دي؟

مهرباني وکړئ د اجنټ سره وغږیږئ ترڅو اضافي اړیني فورمې ترلاسه کړئ که تاسې غواړئ خپل بریښنایی DVS ریکارډ ته بیړنی اړیکه (اړیکې) **یا د پاملرنه کونکي معلومات** وراضافه کړئ او/یا که تاسې غواړئ خپل اعتبارلیک کې د آټیزم/رواني روغتیا شاخص وراضافه کړئ.

**که چیرې د غوښتونکي عمر د 18 کلونو څخه کم وي او د ډونر ټاکلو او/یا د ډرایورۍ امتیازاتو لپاره غوښتنه کوي، زه غوښتنلیک تاییدوم. که د لنډمهاله ډرایورۍ لایسنس لپاره غوښتنه کوئ، زه تصدیق کوم چې غوښتونکي د لږترلږه 21 کلونه عمر لایسنس لرونکي ډرایور د نظارت لاندې د 50 ساعتونو لپاره ډرایوري کړې ده (40 ساعتونه د تکمیلي والدین ټولګي د بشپړولو ثبوت سره). که چیرې د 21 کلونو څخه کم عمر لرونکي ډرایور لایسنس لپاره غوښتنه کوئ، زه تصدیق کوم چې د لږترلږه 21 کلونه عمر لایسنس لرونکي ډرایور د نظارت لاندې 10 ساعتونه ډرایوري کړې.**

______________________________________________
**X والدین/د محکمې لخوا ګومارل شوی قانوني سرپرست لاسلیک** **د غوښتونکي سره اړیکه**

**زما پروړاندې د ______________________ په ____________ ورځ نوم لیکنه او لوړه کړې.**

**زما کمیشن منقضی کیږي په ______/______/______**

(مهر)

______________________
**X (د عامه محرر لاسلیک)**

**د رایه ورکونکي نوم لیکنې کارت: آیا تاسې د امریکا متحده ایالاتو تبعه یې؟ _____هو _____نه**
آیا تاسې به د راتلونکي ټاکنو پرمهال یا مخکې 18 کلن اوسئ؟ _____**هو** _____**نه**

زه غوښتنه کوم چې د رایه ورکولو لپاره راجستر شم (یوازې په هغه صورت کې که ما مخکې رایه ورکولو لپاره نوم لیکنه کړې نه وي، د پورته پتې لیست کولو سره). *د په شرایطو برابرۍ معلومات لاندې وګورئ.*

**لاندې بیان ولولئ او یوازې په هغه صورت کې یې لاسلیک کړئ که ټولې برخې تاسې پورې تړاو لري.**

زه تصدیق کوم چې زه:

- لږترلږه 16 کلن یم او پوهیږم چې د رایه ورکولو مستحق کیدو لپاره باید زه لږترلږه 18 کلن اوسم؛
- د امریکا متحده ایالاتو تبعه یم؛
- د ټاکنو ورځې څخه سمدلاسه مخکې د 20 ورځو لپاره په مینیسوټا کې اوسیږم؛
- د نوم لیکنې فورمه کې ورکړل شوې پته کې اوسیږم؛
- د محکمې لخوا امر شوي سرپرستۍ لاندې نه یم چې محکمې پکې زما د رایه ورکولو حق لغو کړی وي؛
- د محکمې لخوا قانوناً د رایه ورکولو وړتیا نلرونکي په توګه نه یم پیژندل شوی؛
- اوسمهال د جنایی جرم په لړ کې محکومیت لپاره حبس نه یم؛ او
- دا بیان مې لوستلی او وربانديې پوهیږم، چې د غلطو معلوماتو ورکول د مجازاتو وړ جرم دی چې د پنځه (5) کلونو څخه ډیر حبس نه وي او جریمه یې د $10,000 ډالرو څخه ډیره نه وي، یا هم دواړه.

______________________________________________
**تلیفون او/یا بریښنالیک** **د ښوونځي ولسوالۍ (که معلومه وي)**

PS33100-45 08/2023

Driver & Vehicle Services

## د مینیسوټا د عامه خوندیتوب ریاست
## د مینیسوټا د ډرایورۍ لایسنس/پیژند کارت غوښتنلیک

# د ټینیسن خبرتیا

## مهم: مخکې لدې چې تاسې غوښتنلیک ډک کړئ دا خبرتیا ولولئ خبرتیا

**له تاسې ولې غوښتل کیږي چې دا معلومات شریک کړئ او دا به څنګه کارول کیږي؟**
د عامه محافظت وزارت (DPS) به دا معلومات د دې لپاره وکاروي چې د فرد په حیث تاسې وپیژني، ستاسې د ډرایورۍ ریکارډ وپیژني، د ډرایورۍ جواز، لایسنس یا د پیژند کارت لپاره ستاسې په شرایطو برابري مشخص کړي، د درغلۍ مخه ونیسي، د راتلونکي خدمت لیږدونو او/یا پلټنو او پوښتنو لپاره ستاسې ریکارډ ته لاسرسی ولري، او د ایالت او فدرال قوانین رعایت کړي.

**د ایالت او فدرال قوانین د دې معلوماتو راټولول غواړي.**
د مینیسوټا اساسي قانون §§ 171.06، 221.031، او 221.0314، او د فدرال د موټر واسطو د خوندیتوب مقررات (49 C.F.R. §§ 383.71 او 383.153) د دې معلوماتو راټولول غواړي.

**د غوښتل شوي معلوماتو د ورکړې یا د ورکړې ردولو پایلې.**
که تاسې غوښتل شوي معلومات ورکړئ، DPS به وکولی شي مشخص کړي چې آیا تاسې ته د ډرایورۍ جواز، لایسنس، یا پیژند کارت صادر کړي. دا معلومات ممکن د نورو ایالتونو لخوا پدې اړه د پریکړو کولو لپاره وکارول شي چې آیا تاسې ته د ډرایورۍ لایسنس، جواز، یا پیژند کارت صادر کړي. غوښتل شوي معلومات ممکن همدارنګه د موټر بیمې پوښښ لپاره د په شرایطو برابرۍ مشخص کولو لپاره د بیمې وړاندې کونکو لخوا وکارول شي.

که تاسې غوښتل شوي معلومات ورنکړئ، DPS نشي کولی تاسې ته د ډرایورۍ جواز، لایسنس، یا د پیژند کارت او ستاسې د موجود ډرایورۍ امتیازات صادر کړي، که چیرې کوم یې اغیزمن کیږي.

**غوښتل شوي معلومات څنګه د نورو ادارو سره شریکیږي؟**
دا معلومات DPS د ځایی، ایالتي او فدرالي حکومت ادارو ته یوازې په مجاز صورت کې ورکوي یا که د ایالت او فدرال قانون له مخې اړین وي. دا پدې معني دی چې دا معلومات ممکن د دې لاندې ادارو سره شریک شي:

| | |
|---|---|
| د ټولنیز مصوئنیت اداره | د MN د سوداګرۍ وزارت |
| د انتخابي خدمت سیستم | د MN لوی څارنوال دفتر |
| د فدرال د کار وزارت | د MN د ایالت سکرتر دفتر |
| د MN د بشري خدمتونو وزارت | د MN د طبیعي سرچینو وزارت |
| د MN د عوایدو وزارت | د MN د ویټرن چارو وزارت |

علاوه لدې، ستاسې شخصي معلومات لکه څنګه چې د امریکا متحده ایالاتو کوډ، عنوان 18، برخه 2721 له مخې مجاز دي، شریک شي.

**ستاسې د ټولنیز مصوئنیت لمبر په اړه یاددښت.**
تاسې باید خپل د ټولنیز مصوئنیت لمبر د .M.S § 171.06 او د ټولنیز مصوئنیت قانون، (13) (a)666 § .42 U.S.C مطابق وړاندې کړئ. ستاسې د ټولنیز مصوئنیت لمبر د فدرال د موټر واسطو خوندیتوب مقرراتو 49 C.F.R. § 383.153 لاندې د سوداګریز ډرایورۍ لایسنس لپاره ستاسې په شرایطو برابرۍ مشخص کولو لپاره هم اړین دی. دا د ماشوم ملاتړ پلي کولو پروګرامونو مدیریت او د والدین د تثبیت په موخه د افرادو موقعیت موندلو لپاره کارول کیږي. دا همدارنګه د ټولنیز مصوئنیت اداري، د مینیسوټا د عوایدو وزارت، د داخلي عوایدو خدمت، د مینیسوټا د طبیعي سرچینو وزارت؛ او د مینیسوټا د بشري خدمتونو وزارت سره ستاسې د هویت او استوګنیزې پتې تاییدولو لپاره هم کارول کیږي.

## د موټر وسایطو ډیټا مجاز استعمال لکه څنګه چې د
## امریکا متحده ایالاتو کوډ، عنوان 18، برخه 2721 کې ورکړل شوي دي

- د کومې حکومتي اداري لخوا د استعمال لپاره، پشمول د کومې محکمې یا د قانون تنفیذ اداري، د خپلو فعالیتونو پرمخ وړلو کې، یا د کوم شخص یا شخصي نهاد لخوا د خپلو فعالیتونو پرمخ وړلو کې چې د فدرالي، ایالتي یا ځایی اداري په استازیتوب عمل کوي.
- د موټر وسایطو یا د ډرایور خوندیتوب او غلا؛ د موټر وسایطو دفع؛ د موټر وسایطو تولید بدلونونو، بیرته راغوښتلو، یا مشورو؛ د موټر وسایطو د فعالیت نظارت کولو، د موټر وسایطو پرزو، او پلورونکو؛ د موټر وسایطو د بازار څیړنې فعالیتونو، پشمول د سروی څیړنې؛ او د موټر وسایطو تولید کونکو د اصلي څښتن ریکارډ څخه د غیر څښتن ریکارډ لیرې کولو مواردو سره په تړاو کې د کارولو لپاره.
- د مشروع سوداګرۍ یا د هغې اجنټانو، کارمندانو، یا قراردادیانو لخوا د نورمال سوداګرۍ لړ کې د استعمال لپاره، مګر یوازې:
  (A) سوداګرۍ، د دې ادارو، کارمندانو یا قراردادیانو ته د فرد لخوا سپارل شوي شخصي معلوماتو د صحت تاییدولو لپاره؛ او
  (B) که چیرې دا ډول معلومات چې سپارل شوي وي صحیح نه وي یا نور صحیح نه وي، د صحیح معلوماتو ترلاسه کولو لپاره، مګر یوازې د فرد پروړاندې د قانوني چارو په تعقیب کولو سره د درغلۍ مخنیوي، یا د پور بیرته ترلاسه کولو یا امنیتي ګټو موخو لپاره.
- د ملکي، جنایی، اداري، یا مینځګړیتوب پروسې سره په تړاو کې په فدرالي، ایالتي یا ځایی محکمه یا اداره کې یا د پخپله تنظیمي اداري پروړاندې د استعمال لپاره، پشمول د پروسې خدمت، د دعوی وړاندوینه کې پلټنه، او د قضاوتونو او امرونو اجرا یا تطبیق، یا د فدرال، ایالت یا ځایی محکمې د امر په تعقیب.
- په څیړنیزو فعالیتونو کې د استعمال لپاره، او د احصایوي راپورونو جوړولو کې د استعمال لپاره، تر هغه وخت پورې چې شخصي معلومات خپاره نشي، بیرته شریک نشي، یا د افرادو سره اړیکه نیولو لپاره ونه کارول شي.
- د بیمه کونکي یا د بیمې ملاتړ سازمان لخوا، یا د پخپله بیمې نهاد، د هغې د اجنټانو، کارمندانو، یا قراردادیانو لخوا د ادعاو پلټنې فعالیتونو، د درغلۍ ضد فعالیتونو، درجه بندۍ یا د لاندې لیک سره په تړاو مواردو کې د استعمال لپاره.
- بل موټر پسې تړل شوي یا د دړول شوي وسایطو مالکینو ته د خبرتیا ورکولو په موخه د استعمال لپاره.
- د دې فرعي برخې لاندې د مجاز هرې موخې لپاره د جواز لرونکي تحقیقي اداري یا د جواز لرونکي امنیتي ادارو لخوا د کارولو لپاره.
- د سوداګریز ډرایورۍ لایسنس لرونکي اړوند د معلوماتو ترلاسه کولو یا تاییدولو لپاره د کارګومارونکي یا د هغوی د اجنټ یا بیمه کونکي لخوا د استعمال لپاره چې د سوداګریز موټرو د خوندیتوب قانون 49 U.S.C. §§ 31301-17 لاندې اړین دي.
- د شخصي ټول ټرانسپورټیشن تاسیساتو د عملیاتو سره په تړاو کې د کارولو لپاره.
- د فرد د موټر واسطې ریکارډ لپاره د غوښتنو په ځواب کې د نور استعمال لپاره که چیرې ایالت د هغه فرد واضح رضایت ترلاسه کړی وي چا پورې چې نوموړي شخصي معلومات تړلي وي.
- د ټولپوښتنو، بازارموندنې یا غوښتنو لپاره د پراخه توزیع لپاره که چیرې ایالت د هغه فرد واضح رضایت ترلاسه کړی وي چا پورې چې نوموړي شخصي معلومات تړلي وي.
- د غوښتونکي لخوا د استعمال لپاره، که چیرې غوښتونکی وښئ چې د هغه فرد لیکلی رضایت یې ترلاسه کړی چا پورې چې نوموړي شخصي معلومات تړلي وي.
- د نور هغه استعمال لپاره چې په ځانګړي توګه د ایالت قانون لاندې چې ریکارډ ساتي، مجاز وي، که چیرې دا ډول استعمال د موټر وسایطو چلولو یا عامه خوندیتوب پورې تړلی وي.